د کوویډ- 19 واکسین

# په حقیقتونو وپوهېږئ.

## د واکسین کولو څخه وروسته خوندي واوسئ.
## له خپلې ټولنې څخه ساتنه وکړئ.






**تر هغې چې د وروستي ځل واکسین کولو څخه وروسته دوه اونۍ بشپړې شوې نه وي، تاسې په بشپړ ډول له کوویډ- 19 څخه خوندي نه یاست.**

- که چېرې تاسې هغه واکسین وکړ چې دوه ځلې ترسره کېږي، نو باید د دویم ځل واکسین ترلاسه څخه وروسته 2 اونیو انتظار وکړئ.
- که چېرې تاسې هغه واکسین وکړ چې یو ځل ترسره کېږي، نو باید د واکسین ترلاسه کولو څخه وروسته 2 اونۍ } انتظار وکړئ.

## د واکسین کولو څخه وروسته خوندي واوسئ.

کارپوهان په دې نه پوهېږي چې نوموړی واکسین د څومره وخت لپاره د کوویډ- 19 په مقابل کې له تاسې څخه ساتنه کوي یا دا چې د واکسین کولو څخه وروسته بیا هم نورو ته کوویډ- 19 خپرولی شئ یا نه. حتی له واکسین کولو څخه وروسته بیا هم:



هغه ساحې ضد عفوني کړئ چې په زیاته اندازه لمس کېږي.



په تکراري ډول خپل لاسونه ومینځئ.



د ډېرو خلکو غونډو ته له تللو څخه ډډه وکړئ.



اجتماعي فاصله مراعت کړئ.



ماسک واچوئ.

**حتی که چېرې تاسې په بشپړ ډول واکسین هم کړي وي بیا هم په لاندې حالاتو کې په سمدستي ډول د کوویډ- 19 معاینه وکړئ:**



که چېرې د کوویډ- 19 له کوم ناروغ سره نږدې پاتې شوي یاست او د ناروغۍ احساس کوئ. همدارنګه په کور کې او له نورو خلکو څخه لرې پاتې شئ.

که چېرې تاسې له ډېرو خلکو سره ژوند کوئ او د کوویډ- 19 له کوم ناروغ سره نږدې پاتې شوي یاست. که چېرې د ناروغۍ احساس نه کوئ، بیا هم معاینه وکړئ. همدارنګه په کور کې او له نورو خلکو څخه لرې پاتې شئ.

NRC-RIM
National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants

د نورو معلوماتو لپاره: cdc.gov/coronavirus